# د دروغو مزل لنډ دی

(اردو وسیاست درسه دهه اخر افغانستان)

پر کتاب کره کتنه

لیکوال
حضرت الله عصمتي

۱۳۸۰ کال

Ketabton.com

ACKU
PROPERTY OF ARIC Established 1989
AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00010820 8
Ketabton.com

# ددروغو مزل لنډ دی

(اردو وسیاست درسه دهه اخر افغانستان)
پرکتاب کره کتنه

PROPERTY OF ACKU

لیکوال
حضرت الله عصمتي

۱۳۸۰ل کال

Ketabton.com

بسم الله الرحمن الرحیم

# کتاب پېژندنه


| | | |
|---|---|---|
| نوم | : | د دروغو مزل لنډ دی |
| لیکوال | : | حضرت الله عصمتي |
| خپرندوی | : | په خپله |
| چاپشمېر | : | (۵۰۰) ټوکه |
| چاپکال | : | ۱۳۸۰ل ۲۰۰۱م کال |


ACKU

Ketabton.com

# سریزه

څرګنده ده چې دبشرې ټولنو تاریخ یوازې او یوازې دهماغو هنداره او حافظه ګڼل کېږي. تاریخ له همدې بشري پېښو اوکړو وړو پرته څه نه دی. تاریخ دوخت او زمان څرنګوالی او دپېښو عوامل ټول څېړي او خپله لمن کې یې رانغاړي.

یوازې او یوازې وتلي، بې غرضه او مسلکي پوهان او مورخین دغه ډول پانې لیکلای شي، ځکه که چېرې مغرض، نامسلکه او ناپوهه کسان دټولنې دتېرو کړو، وړو او پېښو په باب څه ولیکي نو بې له شکه دټولنې هنداره به خړه او د هماغې ټولنې حافظه به ویجاړه او دانحراف خواته رهي شي.

ددغو لنډو خبرو څخه مو موخه داده چې تاسو لوستونکو ته په پوره صداقت عرض وکړم، چې نه



Ketabton.com

مورخ یم، نه لیکوال او نه هم کره کتونکی او منتقد. خوکله کله انسان دي ته اړشي چې دمغرضو او ناپوهو،په اصطلاح لیکوالو په باب دنظر څرګندونه وکړي او دسترګو لیدلي حالات ټولنې ته وړاندې کړي.چې خدای مه کړه راتلونکی ځوان مورخین کله چې په تاریخ لیکلو پیل کوي، ددغه راز نامسلکي کسانو. ناپوهو او خود غرضو لیکوالو منابعو ته دماخذ په توګه مراجعه ونه کړي.

ح، عصمتي.



Ketabton.com

## ددروغو مزل لنډ دی

څومودہ دمخه مې دخپل يو تن ملګري په کورکې يو کتاب وليد، دکتاب پوښ او نوم زما پام ځانته راواړوه، علت دا و چې دکتاب پوښ ته تور، سور او زرغون رنګ چې دګران افغانستان ملي بيرغ دی ښکلا ورکړې وه، دکتاب عنوان د (اردو و سياست درسه دهه اخرافغانستان) او ليکوال يې ښاغلی ستر جنرال محمد نبي عظيمي دی.

دکتاب عنوان زما دمنصبدارۍ خاطرې را په زړه کړې، څه ښه زړه وره او پياوړې اردو مو درلوده، څه پروطن مين تنکي او باتوره ځوانان مو درلودل، پرته له دې چې ورسره دپښتون، تاجك، هزاره او يا ازبك فکرونه وي، په يوه مورچل کې ناست وو،



Ketabton.com

دوطن په مینه او دخلکو د هوسا او ارامه ژوند لپاره يې چوپړ کاوه او دهېواد دځمکنې تمامیت ساتنه يې کوله، ښه عصري او پرمختللي وسله يې په لاس کې وه، ښه اتل پیلوټان مو درلودل چې په سیمه کې يې ساری نه و،

ددې پورتني ادعا انځور هغه باشهامته افغان ژورنالیست چې په کراتو د وطن په پولو، جګو غرو رغو او مورچلونوکې يې ددې اتل پوځ له سرتېرو او ظابطانو سره مرکې کړې او بیایې د راډیو او ټلویزیون له لارې خلکو او نړۍ ته وړاندې کړې وې. دافغان دملي اونومیالي پوځ له هیبته ان تر پولو هاخوا ګاونډیو هم ارامه خوب نه درلود، له بده مرغه چې دځینو بې فرهنګو قدرت غوښتونکو عناصرو او دملي پخلاینې ددښمنانو له خوا دخپل ناولي ارمان دبرې او بقا په خاطر دا اتل پوځ په چال، نېرنګ او دوکه په سلوکې سل ویجاړشو، خوله نېکه مرغه چې دملي اردو ویجاړونکو او



Ketabton.com

دغو ملي خاينينو ته هم له تورمخی پرته بل څه ورپه برخه نه شول.

دپاکستان دپخواني صدر اعظم نواز شريف خوب او خيال دشراو فساد دعاملينوله خوا عملي شو، ځکه چې دشر او فساد دعاملينو بادار خپلو خلکو ته وويل، چې ما پاکستان ته ډېر لوی خدمت وکړ، هغه دا چې دافغان درې سوه کلن پیاوړی پوځ مې په خپله دافغانانو په لاس رنګ او ويجاړ کړ.

ما له خپل نوموړي دوست څخه داکتاب په امانتي ډول واخيست، کتاب مې ولوست، څو ځلي مې ولوست او ورسره جوخت مې داستاد الفت صيب شعر راپه ياد شو چې ويلي يې وو:

نه ومه خبر پرده مې لږه غوندې جګه کړه
نه دي دويلو هغه څه چې ما ليدلي دي.

ددغه کتاب ترمطالعې وروسته په هغه څه چې زه وپوهېدم هغه يوازې دعظيمي صيب خان ستاينه، دروغ ويل، له ځان نه اسطورهٔ اتل جوړول، دپښتو



Ketabton.com

او پښتنو په باره کې له تعصب نه ډکې خبرې، دخپل وطن دښمنه فرکسیون تعریف او توصیف او داردو له سپېڅلې نوم نه له ناوړې ګټې اخیستنې پرته څه نه و. ده په خپل وخت دې کتاب کې ددې پرځای چې د درې سوه کلنو پوخ اصلي ماهیت د وطن دپولو ساتنه، دخپلواکۍ دګټلو او دموکراسۍ په لاره کې داردو په باب څه ولیکي، له خپل وچ تعصب پرته بل څه نه و لیکلي. په اصل کې دکتاب عنوان او دکتاب مطالب یو له بل سره تضاد کې دي.

سربېره پردې د افغان باغروره او غیرتمن بچیان دملي اردو بادرده او سرتېرې منصبداران هم دا نه شي زغملای، چې هرڅوك د افغانستان دملي او قهرمان پوځ ترنامه لاندې دافغانستان وسله وال پوځ دتوهین، تحقیر او سپکاوي هڅه وکړي اوپه دې نامه دخپلو خیالي پوچو نظریاتو او خپلو خیانتونو دبرات موجبات برابر کړي اوپه دې ډول



Ketabton.com

نوې سیاسي لوبه ترسره کړي.

که عظیمي صیب نورمحمد تره کی، حفیظ الله امین، ډاکټر نجیب الله، سترجنرال محمد اسلم وطن جار، همدارنګه سترجنرال محمدرفیع، ډګر جنرال شهنواز تنی ځینو نامتو او مبارزو پښتنو مشرانو او منصبدارانو ته دخاین، جاني، فاشیست او بېسواده خطاب کړی. داخبره نه ده، دا دعظیمي صیب نمك حرامي، پښتون دښمني او ستمي تګلاره ده.

ترټولو بده لا دا چې نوموړي دقلم حرمت او عفت هم په پام کې نه دی نیولی. زما په نظر دقلم حرمت او عفت ساتل دلیکوال دښه علمیت او پوهې ثرګندوی دی، چې دا ښاغلی ورڅخه بې برخې دی.

همدا راز عظیمي صیب دخپل کتاب په ۵۲۰ مخ کې دجنرال مومن له خولې لیکي: "پښتانه فاشیست دي او موږ نه غواړو نجیب او دپښتنو



Ketabton.com

فاشیزم ته تسلیم شو".

که څه هم داخبره اسناد نه لري خو که مومن داله دروغو ډکې او بې مفهومه خبرې کړي دي، نو هغه هم دتور ائتلاف غړی و او تا د هغه خبرې دتائید په ډول په خپل کتاب کې لیکلي، نوله دې جوتېږي چې ستا او دمومن خوله یوه ده. داستا او ستا دستمي ائتلاف بدنامه څېرې دي چې په هېواد کې یې دپښتو او فارسي مسله او داسې نورې مسلې دبربادۍ لپاره پیل کړي.

له بلې خوا که له ښاغلي عظیمي نه پوښتنه وشي چې ته دې خبرې ته کوم شاهد لرې چې جنرال مومن دا له تعصب نه ډکې خبرې کړي، نو وایي به چې (پیکیر) هم په دې وخت کې هلته په حیرتانو کې ماسره یو ځای و او هغه مې شاهد دی. نو دعظیمي صیب دا خبرې سړي ته دګیدړې او بزګر کیسه ور په یادوي چې:

وایي: یوې ګیدړې دبزګرچرګ خوړلی و، بزګر


Ketabton.com

بله ورځ ګیدړه په لومه کې ونیوله او دوهلو په وخت کې یې ورته وویل، چې ولې دې زما چرګ خوړلی دی؟ ګیدړې په ژړا، ژړا ورته وویل چې ما ستا چرګ نه دی خوړلی، بزګر ورنه وپوښتل، ته کوم شاهد لرې چې زما چرګ دې نه دی خوړلی؟ ګیدړه بې وزله چې سخته دبزګر دوهلو له لاسه ځیله شوې وه خپله لکۍ یې ورته وښوروله او بزګر ته یې وویل: وګوره لکۍ مې شاهدي وایي چې ما ستا چرګ نه دی خوړلی.

عظیمي صیب هم همداسې در واخلئ، او که نه نو واقعیت خو دادی چې نه ډاکټر نجیب الله او نه کوم بل په قام پښتو ن مشر دنورو ورونو قومونو دسپکاوي، بربادۍ او ځورولو هڅه کړې ده دغه ډول چلند یې دپښتنو دستر قام له کرکتر او خصلت سره مناسب نه ګاڼه.

پښتـون قـام دافغانسـتان سـرلوړي دټولـو افغانانو په پیوستون او یووالي کې ګوري او که



Ketabton.com

عظیمي صیب په دغه شان بد ویلو محترمو لوستونکو ته کوم ذهنیت ورکوي، دا به پرېږدو،
خپله ملت په دې برخه کې څه وايي، چا د پرګنو په منځ کې ځای درلوده او څوک منفور و، د تاریخ عادلانه قضاوت ته به سترګې په لار شو، دوطن بې غرضه او رښتیني تاریخ لیکونکي به راپیدا شي او ددې درې لسیزو هر اړخیز واقعیتونه به ولیکي.
لکه مرحوم غبار صیب چې ځلانده تاریخ (افغانستان درمسیرتاریخ) لومړی ټوک په ۷۱۷مخ کې ښه تاریخي واقعیت لیکلی دی، هغوی لیکي. (برګډ عظیمو دوخت امیرته دخپلې خوش خدمتی په بدل امتیازات ترلاسه کړل او دخپرو ازادي غوښتونکو سر یې په کفن کې ونغښته.)
عظیمي صیب دخپل فامیل دستاینې په ترخ کې دکتاب په ۴۲ مخ ۱۶ کرښه کې لیکي(...درفامیل ما که بیشتر انها افسران ورجل مشهور نظامی بودند...)



Ketabton.com

نوله دي نه جوتېږي چې له هغو مشهورو رجالو نه يې يو هم برګډ عظيمو و (مشت نمونه خروار) ښاغلو لوستونکو!

په لومړيو وختونوکې دافغانستان دخلك ديموکراتيك ګوند يو تعداد منحرفو او متعصبو ليډرانو په خپلو حلقوکې دخلقي او پرچمي په نوم وطنپال ځوانان راټول کړل، ترڅو دخپل ګروپ دکميت په لوړولو سره خپلو شومو اهدافو، خپلو خوبونو او پوچو خيالونو، ارمانونو ته ورسېږي، خو بيا يې لاهم تنده ماته نه شوه، دانګليس له فارمول نه يې ګټه واخيسته، چا دځان چارپېره پښتانه راټول کړل او چا تاجك، ان په يوې کورنۍ کې يو ورور ځان دپښتون په ملیت او بل ورور ځان دتاجك په ملیت پورې منسوب کړل، نو انسان نه پوهېږي چې داکار دپرګنو دترايسستنې لپاره وه او که نه کاسې لاندې کومه بله نيم کاسه وه.

دميوند نشراتي مرکز دعظيمي صيب دکتاب په



Ketabton.com

باره کې په خپل یادښت کې لیکلي دي (باوجود یکجانبه بودن نگرش او نسبت به قضایا...).

ناشر واقعیت لیکلی، ښاغلي عظیمي خپل ټول کتاب یو اړخیز لیکلی. لوستونکي ته پوښتنه پیداکېږي ایا دثور له کودتا او بیا دروسانو له یرغل او د ډاکټر نجیب الله تر پرځېدو پورې تا او ستاملگرو دخپل قدرت او صلاحیت په موده کې خیانت او جنایت نه دی کړی؟ ایا تاسې پرښتې وی؟

که چېرې تاسو عالي جناب یو پهسلوکې دخپل خان او خپل گروپ خیانتونه او جنایات په دې تورکتاب کې لیکلي وای نو ستاسو دگناهونو تله به لږ څه سپکه شوې وای او که تاسو بیاهم دخپل خیالي کتاب په تورو کرښو کې له تو پیره پرته دپښتون، تاجك، خلقي او یا پرچمي ټولو ښو ته ښه او بدو ته بد ویلي وای او دقلم په بینا سترگو دې ورته کتلي او لیکلي وای، نو دا به ښه وه. څرنگه



Ketabton.com

چې هېڅوك نه شي كولى لمر په دوو ګوتو پټ كړي، نو دلومړني شاه شجاع په توره څېره باندې هم څوك لمن نه شي خورولی. دټولو ورو او زړو افغانانو په ذهن كې لاتراوسه او ترابده به دانغښتې وي چې شاه شجاع په خپل وخت كې دانګليس استازى و. خو دهغه دشهامت په باره كې مرحوم غبارهم دخپل كتاب (افغانستان درمسيرتاريخ) دلومړي ټوك په ۵۵۶مخ كې ليكلي "در۱۵ دسمبر شاه شجاع از رفتن به هند انكار كرد واعلاميه جهاد ملی را در برابر انګليس در بالاحصار امظاً ګذاشت. خانم پيل دراين مورد نوشت كه: شاه شجاع نه اينكه رفتن به هند را همراه انګليس نميخواهد، بلكه طبقات مختلف مردم را برضد انګليس تحريك مينمايد."

زما دا ليكنه يوازې ښاغلي عظيمي او دهغه باند ته چې ده ورڅخه دفاع كړې او كوي يې متوجه ده. كه څوك (اردو وسياست درسه دهه اخير



Ketabton.com

افغانستان) ترپاسه پورې په ښه ځیرتیا ولولي، نو درحمان بابا هغه شعر به ور په یاد شي چې وایي:

که یوه جو دانه عیب وینې په بل کې
هغه یو جودانه عیب به یې لوی غرکړې
که دې خپله ګناه لویه لکه غروي
په حیله حیله به غر دمچ وزر کړې
که څوك تله دانصاف په لاس کې درکړي
خپل ځان او دبل اس به برابر کړې
تولعنت دې په داهسې منصفي شه
چې له حقه وباطل وته نظر کړي

ښاغلی عظیمي صیب! ټول افغانان تا په واقعي ښه ښه پېژني او پوهېږي چې د ظاهرشاه له وخت نه رانیولې تر داودخان. تره کي، امین، کارمل، نجیب او رباني پورې په ریایي او کاذبو جامو کې دې ځان وساته، چاسره دې کودتا وکړه او چاسره دې چك چکې؟ دمظلوم افغان ملت دسرو



Ketabton.com

وینو په تویولو سره دې لوړې رتبې او مقامونه لاس ته راوړل، همدا ته اوستا دستمي بانډ جنایتکاران نه وو، چې دملګرو ملتو پلان مو شنډ کړ او دویمه سقاوي مو یو ځل بیا پرخلکو وتپله؟

اوپه پای کې دافغان ولس په منځ کې دتور مستقبل له اصله د نه ځای درلودو له کبله بهرته په تېښته وتښتېدې.

محترم عظیمي صیب! دا به دې ښه په یاد وي هر محصل چې به له حربي پوهنتون څخه بری لیک اخیسته نو دبري لیك داخیستلو پر ورځ به یې په یو لوی محفل کې سوګند یاداوه، چې دا ورځ د (عسکری تحلیف) په نوم یادېده.

د۱۳۴۳ ل کال دلیندې میاشت به دې ښه په یاد وي، چې په حربي پوهنتون کې دې له نورو فارغانو سره یوځای خپل لاس پر قرانکریم کېښود او د (څښتن، هېواد، تولواك) په نوم دې قسم وخوړ، فکر کوم نه دې یادېږي، ځکه که واقعاً تا دیوه



Ketabton.com

افغان او مسلمان بچي په توګه قسم خوړلی و، نو تابه د ۱۳۵۲ ل کال دچنګاښ پر ۲۶ مه دمحمد داود په پلوی پر خپل قسم پښه نه ایښوده او دکودتا پر دریمه ورځ به دې افتخاري عکس هم له محمد داود سره نه اخیستی ته، چې دخپل تور کتاب په ۷۶مخ کې دې چاپ کړی هم دی او په پای کې دی دمحمد داود ملي ارمانونو سره هم جفا وکړه.

ښاغلي عظیمي ته خو هغه وخت ګوندې هم وي، دځینو کسانو په عقیده چې ویل یې ګوندیان په قسم اړ نه دي) نو بیا دې ولې پرخپل قسم باندې پښه کېښوده، ځکه خو ځای لري چې ووایم ته دهغه ټولو کمیو او نیمګړتیاوو او خیانتونو سره سره چې لرې یې یو دسیسه ساز هم وې. تا دخپل کتاب په ۹۵ مخ کې لیکلي دي، چې محمد داود زه او اصف الله خان ته وبللو او موږ ته یې وویل چې تاسې له نورو نه ماته نږدې یاست. دسردار



Ketabton.com

عبدالولي پرضد اسناد جوړ کړي، ترڅو هغه اعدام ته برابر شي، تاسې دسیسه سازانو دسردار ولي پرضد ربښتیا او دروغ، جعلي اسناد جوړ کړل او هغه مو اعدام ته برابر کړ، خو سردار محمد داود، عبدالولي دکورنۍ اړیکوله کبله وبانښه او خوشې یې کړ. متل دی: (سوړ ژمی تېرشه او...)

که سړی فکر وکړي سردار عبدالولي د۱۳۴۶ل کال دلړم پر درېیمه نېټه دخپل شاهي نظام دپایښت له کبله پر مظاهره چیانو باندې اردو ته د اور امر وکړ، چې په نتیجه کې یې درې تنه شهیدان او څوتنه ټپیان شول.

ښاغلی عظیمي صیب تا او ستا بانډ ته به څوك اسناد جوړ کړي، چې اعدام ته برابر شئ؟

زما په نظر تاسې ته اسناد لاژم نه دي، پر دې چې تاسې له وخته دافغانستان ځورېدلو خلکو له خوا محاکمه او په مرګ محکوم شوي یاست. تا په خپله په کراتو په ننګرهار، پکتیا، لوګر، میدان



Ketabton.com

ښار او دافغانستان په ګوټ، ګوټ کې دخپلو نظامي فعالیتونو او جنګونو لاپې وهلې دي او په په دې کتاب کې دې هم لیکلي، په سلګونو بې ګناه او بې دفاع خلك دې دانقلاب ضد او مخالفینو په نوم وژلي دي، دغزني عبدالخالق او د هغوی دکتار ملګري تا ووژل، په لوګر، میدان ښار او پکتیا کې دې دکوچیانو په سلګونو توري کېږدۍ او کورونه د روسانو ترلاړښوونې او بیا هم په خپله قومانده د راکټو، ټانکونو او بمونو په وسیله وران او ویجاړ کړل او بادارنو ته به دې راپور ورکاوه، چې په دې کېږدیو او کورونو کې ضد انقلاب او مخالفین وو. خو برعکس په دې تورو کېږدیو او کورونو کې صرف هغه پښتانه کوچیان بې وزله او بې دفاع بزګران وو چې شهیدان کېدل نه ضد انقلاب او مخالفین، تا او اصف دلاور چې په بزدل هم مشهور دی دروسانو خوشالولو لپاره په هره سیمه. دفتر او جزوتامونو کې پښتانه دضد انقلاب په نامه ووژل.



Ketabton.com

ګرانو لوستونکو!

موږ په عسکرۍ کې په اوونۍ کې یوځل وسله پاکي درلوده، چې وسله زنګ ونه خوري او خرابه نه شي، ښاغلي عظیمي دافغانستان اردو ته موریانه زنګ و، وطن او په خاصه توګه پښتو او پښتنو ته ځاني دښمن و او دی، ان دکتاب ناشر پر دې کتاب باندې بې ځایه نیوکه نه ده کړې.

(باوجودیك جانبه بودن نګرش او نسبت به قضایا...)

په رښتیا چې عظیمي صیب په خپل کتاب کې یوازې دپښتو او پښتنو پر ضد ډېر له شرمه ډك دروغ تورونه او چټیات لیکلي دي، علت یې څه دی له دې دروغو به څه ګټه واخلي؟ پرته له دې چې دخپل ځان او باند پرضد دخلکو کرکه راوپاروي، څوك یې دقاتل په نوم، څوك یې دفاشیست، بېسواد، بې تحصیل، عقده مند، جلمبر،سادسیت، وحشي او څوك یې دجلف په نوم



Ketabton.com

یاد کړي دي.

زه نه پوهېږم چې دا نا مودب اصطلاحات عظیمي صیب له کومه پیداکړي؟

ما دیوه لیکوال په هېڅ اثر کې داسې بې مفهومه بازاري او غیر ادبي اصطلاحګانې نه دي لوستلي. نودابه هرو مرو ښاغلي عظیمي صیب له خپل کور کهول کلي او بانډې نه په میراث اخیستې وي.

ښاغلي عظیمي دخیبر قاتل حفیظ الله امین ښودلی، چې هېڅ واقعیت نه لري، دروغ او تهمت دي، ځکه چې مرحوم خیبر دافغانستان دخلك دموکراتیك ګوند له بنسټ ایښودونکو نه و. هغه عالم، مترقي، ښه چلنده او دپوهې خاوند و، چې دګوند او پرچمیانو په ګروپ کې یې ساری نه درلود. نو که ژوند له میراکبر خیبر سره وفاکړې وای دپرچمیانو په جناح کې به هغه لومړی او پېژندل شوی شخصیت و نه بل څوك او دا هم تېولوته څرګنده ده چې خیبر چا وواژه.



Ketabton.com

د (اردو او سیاست درسه دهه اخر افغانستان) په ۲۲۱ مخ کې لیکل شوي چې حفیظ الله امین لومړی مسموم شه او بیا دروسانو دیرغل په نتیجه کې دلاسي بمب په وسیله له منځه لاړه او ځودقیقې وروسته یوتن چې له نظامي نښو پرته د بیشوه؟ دامین مړي ته نږدې شو او دهغه مړی یې په ښا واړوه او عکاسي یې کړ، ترڅو چې یقین یې راشي چې امین د)) که کوم بل څوک؟ او په پای کې یې دامین پر مړي باندې هم فیر وکړ.

ددې پارګراف په لوستلو سره ماته دا ټوکه راپه یاد شوه.

( په تېرو وختونو کې تر جګړې وروسته یو جنرال خپل جز وتامونه راغونډ کړل چې خپلو سرتېرو ته دبري په ویاړ انعامونه ورکړي، جنرال له لومړي سرتېري نه وپوښتل، تاپه دې جګړه کې څوتنه ووژل، سرتېري وویل: ما ددوتنو غلیمانو سرونه غوڅ کړل، دویم سرتېري وویل: ما دیوه تن غلیم



Ketabton.com

سترګې وکښلې، درېيم سرتېري وويل: ما ديوه تن پښې له زنګنو نه غوځې کړې، جنرال ورنه وپوښتل، ولې دې سرترې غوځ نه کړ؟ سرتېري وويل: صاحبه سريې بل چا غوځ کړی و).

نو دعظيمي صيب په خبره هغه نفر چې له پوځي ښوونځي نه پرته يې نظامي دريشي اغوستې وه او دحفيظ-الله امين پر بې روحه کالبد يې فيروکړ هغه دپورتنۍ ټوکې د درېيم سرتېري رول لوبولی دی.

داسې ډېر درېيم ګړي سرتېري داخلي، کې، جي، بي، له پوځي ښوونځي پرته په نظامي دريشۍ کې دروسانو په کتارکې دروسانو ديرغل په لومړيو شپو ورځو کې دفاتحانو په شان ګرځېدل، دښاغلي غوربندي صيب دکتاب (نګاهی به تاريخ حزب دموکراتيک خلق افغانستان) په ۹۹ مخ کې هم دغه بې پته خليقن په ګوته شوي دي.

دعيني شاهدانو له خولې پر دغه شپه چې روسانو دحفيظ الله امين پرکور يرغل وکړ،



Ketabton.com

جنایتکار وکیل او دهمده په شان په ختمه خام نورو افغانانو روسانو سره یو ځای نظامي دریشي اغوستې وې چې هېڅ پوځي نښې یې نه درلودلې. دغو ملي خاینینو دامین کشری زوی چې په ښته دلاسي بم دچرې له امله لږ څه ټپي شوی و دمور غېږې ته ور وغورځېده، کوچنۍ ماشوم کوکې وهلې موري زه لږ خوږ یم ما روغتون ته ورسوه. که نه پلار غوندې مې مړکېږم، خو دغو خاینینو هغه ماشوم ددرملنې په نوم دمور له خوږې غېږې په زور را واخیست او له کوره یې بهر کړ چې تر ننه پورې یې مړی او ژوندی ورك دی.

ښاغلو لوستونکو!

بیاهم عظیمي صاحب دخپل کتاب په ۲۲۹ مخ ۲۶ کرښه کې لیکلي، حفیظ الله امین (محکمه واعدام شد) نو دا په ډاګه ویلی شو چې دمیراکبر قاتلین هم هغه داخلي (کې، جي .بي) وه چې امین یې دروسانو په مرسته ووژه او ددې قاتلینو مشر



Ketabton.com

خاص لقب هم ځانته وګاټه، نو داهم ویلی شو چې
ردروغجن حافظه نه لري) ځکه ښاغلی عظیمي
د(اردو وسیاست درسه دهه افغانستان) په ۲۵۱ مخ
څلورمه کرښه کې داردو دملي ترکیب په هکله په
ډېره بېشرمی او سپین سترګی سره لیکلي:
(...زیاتره پښتانه منصبداران ځمکه لرونکي او
دسوکاله ژوند خاوندان وو او یو شمېر تاجك
منصبداران تحصیل کرده او روشنفکر وو). دا باید
څرګنده کړم چې دوجدان خاوند یو لیکوال هېڅ
وخت یو اړخیز او له تعصب نه ډکه لیکنه نه کوي
او دورونو قومونو ترمنځ دنفاق اور ته لمن نه وهي.
عظیمي په خپل خیالي او کرکجن کتاب کې
لیکلي :
(ما دظاېطی په دوران کې په اوومه فرقه کې
دخرمګس کتاب پټ لوستلو...) نو له دې خبرې نه
جوتېږي چې ښاغلي دخرمګس کتاب په لوستلو
سره روشنفکر او یا لوستی شوی دی؟



Ketabton.com

زما هغه بادردو افغانانو ته چې په شوروي کې
يې تحصيل کړی دی احترام دی او واقعي جنرالانو
ته هم سلام، نو عظيمي صيب که ته وايې ما
تحصيل کرده ام او باسواده . ښه به دا وه چې د خپل
توصيف خپله نه وا ی کړی، زما په نظر دا به ښه
وای چې بل چا ستا د تحصيل او روښنفکرۍ
ستاينه او توصيف کړی وای، دا به هم خلک قبول
کړي چې تاسې نظامي تکتيک کې په زخره شو
درجه له شوروي نه بری ليک اخيستی دی، خو په
دې خبره نورتول ښاغلي نظاميان ښه پوهېږي چې
تکتيک صنعت دی نه علم او په دې هم دافغانستان
محترم وګړي پوهېږي چې د ۱۳۵۷ ل کال
دمرغومي له شپږمې نه د ۱۳۷۰ ل کال تر پايه
پورې کوم با صلاحيته ګوندي او دولتي منصوب
خپل زامن، خپلوان ګاونډيان او حتی دکور اوکلي
ځوانان دعسکرۍ خدمت او جنګي سيمو ته دننه
تګ له داره شوروي ته د تحصيل په نوم



Ketabton.com

واستول، ترخو خپل ګروپ او یا ستا په اصطلاح خپل خوشبینه (تحصیل کرده او روشنفکره طرفداران زیات کړي).

محترمو لوستونکو!

په رښتیا چې په دا درې لسیزو کې په ګران هېواد افغانستان کې د ډېرې کودتاګانې وشوې، چا دخپلو داخلي قواو په زور قدرت لاسته راوړ او چا دخارجي قواو په یرغل. څرنګه چې عظیمي صیب د(اردو وسیاست در سه دهه اخیرافغانستان) په ۳۱۳مخ یوولسمه کرښه کې لیکلي دي: کودتای نجیب الله ومیخایل ګرباچف علیه کارمل) ، نو که ده دا هم لیکلي وای: کودتای کارمل بریژنیف علیه امین ویا کودتای مخالفین مصالحه ملی وربانی ، کودتای اخوانی وپاکستانی وباند ، ك، ج، ب، افغانی) علیه دکتور نجیب الله، بیابه هم دده دکتاب د۳۱۳مخ تورو کرښو ته دسوال ځای نه و پاتې.

که هر وطنپرست افغان فکر وکړي د ۱۳۵۷ کال



Ketabton.com

دغويي د اوومې نېټې له کودتا راپيل دډاکټر نجيب الله تر پرځېدو پورې پر ګران افغانستان څه تېر شول، نو هرو مرو دغبار صيب دتاريخ لومړي ټوك کې د۱۸۳۹_ ۱۸۴۰ ما جراګانې ورپه ياد ېږي.

ښاغلی عظيمي دخپل کتاب په بل ځای کې ليکلي. جنرال محمد رفيع دجمهور ريس مرستيال دروسانو غوره مال اوپه اخير کې يې ګلبدين سره ارتباط درلوده خاين و او تنې هم کودتا وکړه خاين و، نوکه دي ښاغلي نه څوك وپوښتي ايا تا او ستا بانډ دشمال کرغېړن ائتلاف سره ارتباط نه درلود. نه شې ويلی ځکه چې له ډېر پخوا نه تاسو دا اړيکي درلودل.

ايا تاپه کودتاګانو کې فعاله ونډه نه درلوده؟ بيا هم نه شې ويلای، ځکه چې درلوده دي. بايد په ډاکه ووايم که تنې په يوه کودتا باندې خاين کېږي، نو ستا خيانتونه تر هغه زيات دي، پردې



Ketabton.com

چې تا په څوکودتاګانوکې فعاله ونډه درلوده.

ایا تا دخپل بانډ تر سیوري لاندې دپرچمیانو دکودتا پلان دخپل کتاب په ۱۵۶مخ کې دامین په مقابل کې نه دی لیکلی؟ ایا هغه رمز چې ستاسې دګروپ تر منځ تعین شوی و او دخاین وکیل له خوا تاته وویل شو، چې دضرورت په وخت کې (رفع مریض وخیم است بصورت عاجل کمک کنید) دې له هېره وتلی؟

که تاسې واقعاً هغه مرموز رمز دافغان دبچیو د هوساینې او دوطن دابادۍ لپاره په هغه وخت کې کوردینه کړی و. نو ولې مو په اخر کې هغه مریض دکوما په حالت کې لاس ترلی او ګریوان څېرلی پرېښود او دهغه نسخه موهم چې دسولې او ثبات دارو او درمل په کې لیکل شوي وو څېرله، یو ځل دې روسان راوستل او بل ځل دې پاکستانیان.

عظیمي صیب په کتاب کې لیکلي: منوکی



Ketabton.com

منګل او عمر معلم خاینان او فاسیستان وو.

په دې برخه کې باید وویل شي منوکی منګل دطب ډاکټر و او ښه علمیت یې درلوده په سلګونو ناروغان یې درمل کړي ووااو دهغو اشتباهات ستاپه پرتله ډېر لږ دي.

او محترم تورن جنرال عمرمعلم دساینسي علومو په څانګه کې لسانس لري په کلونو کلونو دوطن بچیانو ته په ښوونځیو کې روزنه ورکړې وه دهغه ګوندي سابقه هم له تا زیاته وه، ښایي هغه به ستا ځینې دسیسې او خیانتونه بربنډ کړي وي چې اوس هغه ته فاشیست او دخاین خطاب ورکوې.

ښاغلی عظیمي دکتاب په ۴۲۴مخ درېیمه کرښه کې لیکلي د ډاکټر نجیب الله له خوا دمحمد اسلم وطنجار تاکنه دملي دفاع وزیر په توګه ابلهانه عمل و، که څوك ورڅخه وپوښتي چې ولې؟ نو دی به وایي وطنجار خلقي بود و پشتون او بیا به وایي زه مستحق وم نه تنی او وطنجار.



Ketabton.com

زه دګرانو لوستونکو پام دې خبرې ته راګرځوم چې عظیمي په خپل کتاب کې ځینو افغاني لوړو شخصیتونو ته بدې او ردې خبرې کړي او ځینې ئې ان دکوڅې په بدو الفاظو یاد کړي، حو ده ته که څوك ووایي چې ستا په شان سړي ته هم دا بد رد او دکوڅې الفاظ مناسب نه دي نو ښاغلی وایي چې دقلم دعفت او حرمت ساتل په کار دي او دا د ئې فامیلي تربیې پورې اړه لري.

عظیمي صیب که وایي چې دا بد الفاظ دلیکوال په اثر کې دلیکوال شخصیت ته صدمه رسوي نو ښاغلیه ددې اثر پهلوستو سره تاته ښکاري شخصیت نه دی پاتې.

دبېلګې په توګه د(مناظره ها ومحاضره ها درپیرامون اردو وسیاست) دکتاب په ۲۲۰ مخ په درویشتمه کرښه کې دښاغلي (ع. کابلي) نیوکې ته چې د(اردو وسیاست درسه دهه اخر افغانستان) پر کتاب باندې یې کړې او په



Ketabton.com

کاناډاکې د (واقعیت ها) په خپرونه کې خپره شوې ده ځواب ورکړې او لیکلي یې دي (قبل از همه میخواستم خواهش ازشما بنمایم که هیچکس را "احمق" خطاب نکنید ، زیرا که ادب وتربیت وسطح وسواد شما را زیر سوال میبرد).

عظیمي صیب که دادې واقعیت لیکلی نو ولې دې دخپل کتاب په ۴۲۴مخ دریمه کربنه کې لیکلي ، (دمحمداسلم وطنجار تاکنه دډاکټر نجیب الله له خوا دملي دفاع دوزیر په توګه ابلهانه عمل و؟

ایا پو هیږې چې احمق او ابله دواړه مترادفې کلمې دي؟

ایا تاته لاژم دي چې یو ملي نړیوال پېژندل شوي شخصیت ډاکټر نجیب الله ته ابله خطاب ورکړې؟ که تاسې عظیمي صیب لاژم ګڼې، نوزه حتما وایم چې ستا د ادب او تربیې ، سطحې او سواد پر وړاندې باید غټه سوالیه کښنودل شي.



Ketabton.com

عظیمي صیب وجداناً ووایه ایا تا دګران افغانستان دملي دفاع د وزارت لیاقت او حیثیت درلود؟ ایا ستا عمل چلند او کړه یو واقعي منصبدارته پاتې کېده؟

ان ستا ظاهري سلیقه هم دعسکري اصولنامې خلاف وه. دا دډاکټر نجیب الله اشتباه وه، چې تاته یې دستر جنرال رتبه او دکابل دګارنېزیون مسولیت ورکړ، ځکه دیوې ورې سیمې ساتنه نه شوه کولای او پاتې لا دکابل دګارنیزیون مسولیت.

که دېناغلي عظیمي صیب نه پوښتنه وشي، ولې دافغانستان هغه مجهز اوپیاوړی پوځ چې له نیمې نړۍ سره یې ډغرې وهلې، منحل او نابوده شو؟

نو وایي به زه یې په راس کې نه وم، په داسې حال کې چې تا ، اصف دلاور، کاویانی، وکیل، مزدك او بریالی دخپلو بادارانو په دستور او دپاکستان دخوشالۍ او دشر او فساد برقرارۍ لپاره دغه مسولیت پر غاړه واخیست.



Ketabton.com

ګرانو لوستونکو!

که عظیمي صیب دا خبره هم وکړي، دا به دخلاصون لاره نه وي. په دې چې ده او باندیې دډاکټر نجیب الله په مقابل کې دشمال ائتلاف وپاراوه، مخکې له دې چې دملګرو ملتونو له خوا ټاکل شوي استازي کابل ته رانوزي، ملګرو یې دکابل ټول ګارنیزیون دشمال ائتلاف ته په خپل لاس تسلیم کړ. په دې وخت کې زه په حربي پوهنتون کې برحال منصبدار وم، ښه مې په یاد دي چې دشورای نظار محدود ګروپونه دحربي پوهنتون په انګړ کې دپوهنتون د رهبرۍ هیت له خوا په چک، چکو ښه راغلاست ویل او برګه شول او سم له لاسه دحربي پوهنتون دپوهنځیو وسله کوټونه ورته پرانیستل شول او ټولې وسلې یې ولجه کړې، دچاپر اوږه کلاشنکوف او دچا ترملا میکاروف تومانچې ځوړندې شوې اوپه ګارنیزیون کې تا جناب مسعود ته ګونډه ووهله او دتسلیمۍ سر دې ورته په پښو کې



Ketabton.com

کېښود او غوړه مالي دې ورته پيل کړه، ترڅو دکابل ګارنيزيون پُښت درڅخه وانخلي اوپه نتيجه کې ترډېرې مودې پورې په دې پښت کې پاتې شوې.

محترم عظيمي صيب! ايا دخلکو دا لاندې پوښتنو ته ځواب لرې؟

ولې دکابل دمحترمو ښاريانو کورونه چور او چپاول شول؟

ولې ملي موزيم چې په منطقه کې يې ساری نه و چور او چپاول شول؟

ولې لوی کتابتونه، راډيو، تلويزون، کابل پوهنتون او دخلکو شخصي کتابتونونه چور او تالان شول؟

ولې دکابل دګارنيزيون تولې مهمې او درنې وسلې دپنجشېر درې ته يو وړل شوې؟

ولې دافغانستان دپياوړې اردو ټول محرم نظامي اسرار ستاسې دشوم ائتلاف په وسيله په پاکستان



Ketabton.com

خرخ شول؟ او دا باور هم شته چې اوس هم ددې پوځي- سياسي اسرارو يوه کاپي تاسره موجوده ده، ځکه چې ته خو هسې هم چندان حافظه نه لرې، چې دظاهرشاه له وخت نه رانيولې دنجيب الله تر پرځېدو پورې تعينات، برطرفۍ ګانې، نظامي حالات، کودتاګانې، دپرسونل نومونه د وسايطو څرنګوالی او داسې نور دې په ياد کې دي.

ښاغلو لوستونکو! که له يوې خوا دعظيمي په شان ځ خود صفتي، دروغ ويل، پرمخې، ذهنيت ګرايي او کينه نغښتې ده، بل صفت يې پره اچول هم دي، دبېلګې په توګه ده دخپل کتاب په ۴۲مخ کې لومړی او دويمه کرښه کې ليکلي(تورن مسافرخان دسرتېرو دډبرو سکرونه منفي استفاده کوله) او د ۱۷۴مخ په اتلسمه کرښه کې؛ ليکلي(بعضی از رجال برجسته رژيم با داشتن معشوقه ها ومترس های قشنګ کوس بدنامی را به رژيم خويش مي کوبيدند، فارغبال وبدون



Ketabton.com

اندیشه به عیاشی وفحاشی میپرداختند...) دا اخري مطلب عظیمي صیب دامین پر رژیم تپلی دی.

که څوك له ښاغلي عظیمي صیب نه وپوښتي، ایا دا پورتني عملونه تانه درلودل ؟ دا به دې ښه په یاد پاتې وي، هغه ماښام چې تا په کورکې مېله جوړه کړې وه، څو تنه دځان په شان افراد دې راټول کړي وواو (چاروالي) قیمار دې واهه، زلمی غوث دراډیو ټلویزون نطاق هم ستا په کور کې ناست و، حاجي هزاربز تجار دچای دیوه ځوان هلك په مرسته یوه پایه رنګه شارپ ټلویزون او څوبوتله وسیکي شراب ستا کورته راوړل او تا جناب دې په مقابل کې

دګارنیزیون دمقام له خوا جعلي ترخیص ورکړ، ایا دا ستا منفي استفاده نه وه؟ دا تحفه وه که بډې او خیانت؟

هغه ځوان هلك چې ټلویزون او وسیکي شراب یې ستاکورته در وړي ووهغه دلته په ډنمارك کې



Ketabton.com

ژوندکوي.

ایا تاسې د افغانستان دبزګرانو تراکتورونه دجمیعت دقوماندانانو دعریضو له لارې په پاکستان نه خرڅول؟ له بده مرغه تا ډاکټر نجیب-الله ته هم دوکه ورکړې ده او هغه دا هدایات صادر کړي ووچې دبزګرانو دتراکتورونو دخرڅلاو امرونه دې دګارنیزیون له خوا ورکړل شي او امر شوی وچې زراعتي وسایل او وسایط دې ډهوایي بمباردمان نه په امان کې وي. د ډاکټر نجیب الله ډپورتني انساني هدایت سره سم ستا خولۍ په غوړو کې ولوېده، له یوې خوا دې دخپلو امرونو دخرڅلاو له لارې په ملیونونوافغانۍ راټولې کړې او له بلې خوا دې په تراکتورو کې خپل ستراتیژیک متحد جمیعت ته له حیرتان بندر نه مستقیمه وسله لېږدوله، ترڅو چې نجیب الله ستاپه دې شوم او منفي عمل خبر شو او دتراکتورونو دخرڅلاو صلاحیت یې درڅخه واخیست.



Ketabton.com

جناب عظیمي ایا پر ۱۳۶۶ ل کال ددرېیم مکرویان د ۳۵ بلاك ددرېیمې ز مینې (۴) اپارتمان ته نه راتللې؟ ایا دهغه ځلمي هلك چې دلومړي ځل لپاره یې دافغانستان په راډیو تلویزون کې کې د (مایکل جکسن) دنڅا تقلید وکړ، مور او دوو خوانو بناپېریو خویندوسره منفي (دې وړته) اړیکي نه درلودل؟ (له بده مرغه دا کورنۍ له اخلاقي پلوه کمزورې وه) ایا تا نوموړي ځوان هلك ته دکابل ګارنیزیون مقام له خوا دسرتېرۍ جعلي اسناد نه و ورکړي؟ نه، نه شې ویلی، په دې چې زما کورهم همدغه مکرویان، همدغه بلاك اوڅ همدې ز مینې په ۴۰ اپارتمان کې و او دبلاك په پنځمه زینه کې دګارد خاصې لوا دوو تنو منصبدارانو هم ژوند کاوه.

دهمدې پنځمې ز مینې په دروازه کې د ۱۰۱ نمبر محافظه غند سرتېرو امنیتي پوسته هم درلوده، چې ستا په غیاب کې به دې ډریور ددې پوستې سرتېرو سره مرکې کولې.



Ketabton.com

دا دوه منصبداران او دامنیتي پوستې پـهره دار سرتېري ستا په دې منفي عمل هم خبر وو، که تاسې عظیمي صیب ددې خبرې نور تفصیل هم غواړئ، زه، هماغـه دوه منصبداران او سرتېري ژوندي یـو چې دا خبره درسره سپینه کړو.

ګرانو لوستونکو!

عظیمـي صیـب او بانـډ یـې دخپلـې دې تـورې لیکنې ترڅنګ یوه بله شب نامـه هم خپره کړې، چې د(منـاظره هـا ومحـاضره هـا درپـیرامون اردو وسیاست) پـه نامـه یادېږي، پـه دې هـڅه کې قـاتل عظیمي ډېر داسې عجیب او غریب مطالب راوړي چې په حقیقت کې دهغه جرم لاپه زیات رسوي.

ښاغلي عظیمي بیـاهم دمحـترم (ن، کـابلی) پـه نیوکـه (منـاظره هـا ومحـاضره هـا درپـیرامون اردو وسیاست) دکتـاب ۲۲۴مخ پنځمه کرښه کې ښکرـ ور دروغ ویلي دي چې:

(درمورد سردار عبدالولی،بعد از همـان شب کـه



Ketabton.com

شما قصه اش را از اردو وسیاست اورده واقتباس فرموده اید دیگر، مولف اردو وسیاست ازعضویت محکمه منفعل وبه عوضش جگړن عبدالستار به امضای سردار محمد داود خان تعین گردیده بود).

جناب عظیمي صیب، هغه وخت چې ته یو خیالي او پوچ داستان لیکې، ایا ستا تېر شوي پارګرافونه په حافظه کې پاتې دي چې څه دې لیکلي؟ اویا ستا پر تورکتاب باندې ځوك نیوکه کوي، ایا ته ددې کتاب کاپي لرې چې په ځواب کې هغه څه دې چې لیکلي دي ترې دفاع وکړې؟ نو که ددې کتاب کاپي درسره موجوده وي، لطفا یې ۱۱۴مخ له لومړۍ کرښې نه ترلسمې کرښې پورې په ښه ځیر سره ولولئ چې لیکلي دې دي.

(شبی سردارمحمد داود من واصف را درمنزل خویش احضارکرد وبرخلاف هدایت قبلی شان که امر نموده بودند دوسیه سردار ولی طوری تربیت شود که محکمه حکم اعدام را برایش صادر


Ketabton.com

نمایند، هدایت دادند که چون دوسیه مذکور به اثر لت وکوب وشکنجه پولیس های پرچمی ترتیب گردیده و اعتراف گرفته شده، ډگرجنرال فاروق خان ریس محکمه نظامی این جریان را تائید میکند. بنا دوسیه مذکور حفظ ونامبرده را برایت بدهید، تا خواستم چیزی بگویم، سردار بابر اشفتگی مخصوص شان مشت بر سر میز کوبیده وگفتند که (برادر به زور دنده برقی هرکس اعتراف میکند حتی خودمن وخود شما نیز) وی ادامه داد: راکنون هرچه شده، شده است امر میکنم که این دوسیه را ازبین بردارید ډگرجنرال صاحب درجریان است. عبدالولی شخص نا فهمی بود، فقط یک کلاه ویک چوب زیر قول پایه های غرورش را تشکیل میداد. اکنون بقدر کافی جزا دیده است، من هیچوقت به وطن پرستی وی شك نداشتم.)

عظیمي صیب که ته وایي چې دسردار عبدالولي دمحکمې له غړیتوب نه لرې شوی دی، نو ولې



Ketabton.com

سردار محمد داود خان ددویم ځل لپاره ته او اصف الله ځان ته ور وبللې؟ په دې وخت کې خو دسردار عبدالولي جعلي دوسیه بشپړه شوې وه، دوهلو او ټکولو په وسیله له هغه نه اعتراف هم اخیستل شوی و.

ښاغلي عظیمي که ته وایې (بعد از همان شب اول...) دسردارعبدالولي دمحکمې له غړیتوب نه لرې شوې وې، نو ولې سردار داود خان جګړن عبدالستار چې ستا پر ځای ټاکل شوی و، اصف الله سره یې ځانته ونه بله؟ که ته له غړیتوب نه لرې شوې وې، ولې سردار صیب مېز درته په سوك وواهه؟

ولې سردار صیب درته وویل وروره د برقي ډنډې په زور هرڅوك اعتراف کوي، که زه هم واوسم او یا ته.

عظیمي صیب دا پورتنۍ خبرې ټولې ستا دسترګو لیدلی حال دی، چې په خپل خیالي کتاب



Ketabton.com

کې دي ليکلي او ورځخه هيڅ انکار نه شي کولای.

لومړی داچې د (اردو وسياست درسه دهه اخرافغانستان) د ۹۵ مخ په اوولسمه کرښه کې دي ليکلي (جګتورن ستارخان ريس ارکان غند ۷۱۷ نيز به صفت همکار دايمی اين محکمه تعين ګرديده ولې درترکيب محکمه نبود).

دويم محترم الف، هارون دخپل کتاب (داود خان دکې جي بې په لومو کې) په ۶۷ مخ کې دشهيد ميوندوال او دهغه دملګرو دنظامي محکمې غړي وحشيان او بدې اخيستونکي ښودلي او تا جناب دهغه پرليکنې دخپل کتاب په ۱۰۵ مخ څوارلسمه کرښه کې نيوکې کړي اوليکلي دي دي رتا جائيکه من بحيث عضو محکمه نظامی شاهد بوده ميتوانم اعضای محکمه مردم با تقوا بودند وهر کدام انها عمری را به پاکی ودرستکاری د اردو بسر رسانيده بودند).

ښاغلی عظيمي ستا دا دې پورتنی ليکنې نه



Ketabton.com

داسې جوته کېږي، چې نه يوازې (بعد ازهمان شب اول...) دمحکمې له غړيتوب نه لرې شوی نه يې، بلکې ډېره موده دې دسردار داود خان دنظامې محکمې دغړيتوب افتخار هم درلود او ډېرو باشهامته وطنپرستو افغانانو ته دې په څرګندډول پښتو ته جعلي دوسيې او دسيسې جوړې کړي او دنيستۍ کندې ته دې غورځولي دي.

بياهم عظيمي صيب د(مناظره ها ومحاضره ها درپيرامون اردو وسياست) دکتاب په ۱۵۱مخ لومړی کرښه کې دښاغلي محترم فرهنګ صيب پر مقا له باندې نيوکه کړې او ليکي(به پندارمن، درکشورهای پيشرفته کسی که مورد چنين اتهامی قرار ميګيرد، حق دارد وکيل بګيرد واقامه دعوه کند، اما روی نا داری سياه که غم نان نميګذارد ورنه عرض می کردم که بسم الله، بفرمائيد ثابت بسازيد ويا از بهتانی که وار نموده ايد معذرت بخواهيد).



Ketabton.com

جناب عظیمي صیب اول داچې یو پناه ورکوونکی هېواد کډوال ته دخپل دولت شرایطو په نظرکې نیولو دکور، کالیو او ډوډۍ دسمبالولو له کبله په یوې کافي اندازې سره نقدي بسپنه کوي او محترم کډوال کولی شي په دې نقدي بسپنې خپل نورمال ژوند ته ادامه ورکړي، خو هغه کډوال چې له دې بسپنې نه دخپلو شومو سیاسي اغراضو په خاطر استفاده وکړي، هغه لکه تاسې په شان وي (روی ناداری سیاه، غم نان نمیگذارد ورنه...).

دویم که په هرډمخ تللي هېواد کې کډوال حق لري چې وکیل ونیسي، نو دغه هېوادونه دا قانون هم لري چې دمحکمې لګښت ورته مخکې کېږدي.

جناب عظیمي صیب! تاته خو په پخپله خره هنداره کې ځان پاك او سپېڅلی ښکاري. ته به وایې چې دچا حق دې نه دی خوړلی، دچا ناموس ته دې بد نه دي کتلي، لاسونه دې دمظلومو په وینو سره نه دي..



Ketabton.com

نو زما مشوره تاته داده چې بسم الله او پر انتقادکوونکو باندې عرض وکړه او وکیل ونیسه، چې (اعاده حیثیت جناب عالی گردد) اوپه پای کې پرمخې جوت شي اوکه دا کار نه کوې دخپل وجدان دعذاب دخلاصون لپاره له محترمو انتقادکوونکو نه لکه ښاغلو (ن، کابلي ، فرهنګ صیب، الف، هارون، ډاکټرون ،حق شناس، حامدعلي...) او داسې نورو نه احترامانه معذرت وغواړئ او هوډ وکړئ چې نور چاپسې دروغ ونه وایئ او تهمت ونه کړئ او دافغان باشهامته ولس ترمنځ چې له پېړیو پېړیو را په دې خوا لکه دورونو په شان په ګران افغانستان کې یو له بل سره ژوند کوي، دپښتون، تاجك او داسې نورو په نوم نفاق ته لمن ونه وهئ او دادې تل په یاد اوسه چې د (دروغو مزل لنډ وي). په پای کې باید ووایم دا پروني او اوسني نه ښښونکي حالات چې پر ګران افغانستان او افغانانو راغلي او راځي، داټول ستاسې دشوم



Ketabton.com

ائتلاف او دتور جنایتکار ستمي باند افغاني ضد هلو ځلو نتیجې دي، چې له همدې امله به افغان ولس هېڅکله هم تاسې ونه بښي او له خیالي خوب نه راپاڅېږئ چې کونجاره مو لاسته نه درځي.

PROPERTY OF
ACKU
10820

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989



Ketabton.com

Ketabton.com